د افغانستان اسلامي امارت

د مشرتابه مقام دفتر

ګڼه: ۲۸۸

نېټه: ۱۴۴۴/۲/۱۵هـ ق

عاجل: ☐ عادي: ☐

ابلاغیه: ☐ محرم: ☐

بسم الله الرحمن الرحیم

**د ستري محکمې محترم مقام ته!**

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

صحت او عافیت مو الله جل جلاله په نصیب کړه!

وبعد: ټولي اړونده محکمې د لاندې هدایاتو په عملي کولو مکلفې کړئ!

۱. ابتدائیه محکمې دې دوسیې په یوه نیمه میاشت کې خټمې، که کوم قاضي معقول او شرعي عذر ولري او په یاده موده کې اجراءات نه شي کولای، خپل عذر به ستري محکمې ته وړاندې کوي.

۲. مرافعه محکمې دې دوسیې د شلو ورځو څخه تر یوې میاشتې موده کې خټمې، که کوم قاضي معقول او شرعي عذر ولري او په یاده موده کې اجراءات نه شي کولای، خپل عذر به ستري محکمې ته وړاندې کوي.

۳. د تمیز ریاستونه دې دوسیې د شلو ورځو څخه تر یوې میاشتې موده کې خټمې، که کوم رئیس معقول او شرعي عذر ولري او په یاده موده کې اجراءات نه شي کولای، خپل عذر به ستري محکمې ته وړاندې کوي.

٤. ټول قاضیان دې د حدود او قصاص دوسیې په عاجله توګه خټمې، یادو قضیو ته د لومړیتوب حق ورکړئ!

٥. ټول قاضیان دې هغه جنائي قضیې چې بندیان لري، په عاجله توګه خټمې.

٦. د تفتیش او تدقیق په تشکیلاتو کې دې پنځلس تنه اضافه شي، لس تنه په ستره محکمه کې او پنځه تنه د جنوب لویدیځ زون د تمیز په عالي ریاست کې.

۷. کله چې په یو دیوان کې کارونه لږ وي، ستره محکمه کولای شي چې د یاد دیوان د قاضیانو، مفتیانو او محررینو څخه په بل داسې دیوان کې چې کارونه یې ډېر وي، د مکتوب د صدور د نېټې څخه بیا تر یو کال پورې د استخلاف په طریقه سره استفاده وکړي، ترڅو د کارونو ازدحام کم شي.

والســــلام

امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث

مولوي هبة الله اخندزاده

۱۲ ربیع الثاني ۱۴۴۴ هـ

وارده ګڼه: ۱۳۰

۱۴۴۴/۳/۲۷

د ستري محکمې مقام دفتر